DAILY
اراده
داطغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۲۲۴
شماره مسلسل ۸۵۰
سه شنبه ۲۹ سنبله ۱۳۸۴ هش
۱۶ شعبان المعظم ۱۴۲۶ ه ق
20 September, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ ه ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

پنجاه درصد ثبت نام کننده گان در انتخابات شرکت نموده اند



مقامات انتخاباتی تخمین زده اند که میزان مشارکت رای دهندگان در انتخابات اخیر در کشور به مراتب کمتر از انتخابات ریاست جمهوری در سال گذشته بوده است.

روز یکشنبه. ۱۸ سپتامبر. رای دهندگان در نخستین انتخابات پارلمانی کشور در خلال بیش از سه دهه اخیر شرکت کردند تا همزمان. ۲۴۹ نماینده پارلمان را از میان بیش از ۲۷۰۰ نامزد و ۴۲۰ عضو ۳۴ شورای ولایتی را از میان بیش از ۳۰۰۰ نامزد انتخاباتی برگزینند

به گفته مسئولان کمیته مشترک تنظیم انتخابات. به نظر می رسد که تعداد رای دهندگان در انتخابات اندکی



بیش از پنجاه درصد بوده است که. به گفته خبرنگار بی بی سی در کابل. حدود ۲۳ درصد کمتر از میزان مشارکت در انتخابات ریاست جمهوری در سال گذشته برآورد می شود

گرچه حدود دوازده میلیون و پنجصد هزار نفر برای رای دادن در انتخابات ثبت نام کرده بودند ص۴

سرمقاله

په انتخاباتي حوزو کې د کمزورې ګډون لامل په څه کې و؟

دسنبلې ۲۷ نیټه چې په هیواد کې دیو با صلاحیته تقنینی ارګان (پارلمان) دجوړولو په خاطر درایو دورکولو لپاره تاکل شوې وه په بیلابیلو برخو کې داتکلی اندیښنو له شته والی سره سره په بری سره پای ته ورسیده خو په هغه شور او زوږ او مینه چې زمونږ هیوادوال دولسمشری دانتخاباتو د کیدون په خاطر انتخاباتی حوزو ته درایو دور کولو لپاره ورغلی وو په دې انتخاباتو کې په اکثریت حوزو کې دورځې نیمایی پورې دخلکو د ورتګ بهیر سست شو اوبده لادا چې زیاتو هیودوالو درایو ورکولو په بهیر کې ګډون ونه کړ او کارتونه ورسره پاتې شول د څیړنو او لیدنو له مخې څرګنده شوه چې کابو د ۵۰ % په شاوخوا کې هیوادو الو ښایی په انتخاباتو کې ګډون کړی وی دطالبانو د مذبوحانه او وروستیو ناکامو هلو ځلو. تبلیغاتو او اخطارونو سره سره چې دامنیت په برخه کې ۱۰۰ زره امنیتی ځواکونه ځای په ځای شوی او تیارسی شوی وو نو لدې پلوه ویره داندیښنې وړ نه وه خو هغه څه چې باید ګوته ورته ونیول شي ۴مخ

والی بامیان موفق به اظهار رای نشد

حبیبه سرابی والی ولایت بامیان اجازه نیافت تا در مرکز رای دهی لیسه نسوان شهر بامیان رای بدهد به اساس اظهارات مسؤولین مرکز رای دهی متذکره .به خانم حبیبه سرابی درمراجعه اول به این علت که کارت رای دهی خویش را در خانه فراموش کرده بود اجازه داده نشد که رای بدهد

اما زمانیکه وي کارت خویش را از خانه آورد بازهم برایش حق اظهار رای داده نشد زیرا این کارت ازکابل صادر شده بود و تنها میتوانست در کابل قابل اعتبار باشد

صدها مردو زن مرکز رای دهی را ترک کردند

صد ها تن مرد و زن . یک مرکز رای دهی در ولایت تخار را به عنوان احتجاج در مقابل روش نامناسب پولیس. ترک کردند. آنها ادعا دارند که پولیس در مرکز رای دهی لیسه ملا عبدالودود شهید در شهر تالقان. با رای دهنده گان برخورد خشن نموده و حتی برخی را لت و کوب نموده است اما پولیس این ادعا را رد میکند ص۴

درایو شمیرل به نن پیل کیږي

د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر د عملیاتي برخې مسوول وایي چې د کابل او ځینو نورو ولایتونو د رایو ټول صندوقونه به د رایو شمېرلو مرکزونو ته ولېږدول شي او شمېرل به یې د وړې په ۲۹ مه پیل کېږي.

د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر د عملیاتي برخې مسوول پیټر اربن (Petter Arban) د وړې په ۲۷ نیټه مانبام مهال د یوې خبري غونډې پر مهال وویل: ۴مخ

۶۰۰۰ فامیل از حق رای دهی محروم گردیده اند

۶۰۰۰ فامیل مقیم در دشت حصار شاهی ولایت ننگرهار. به سبب عدم موجودیت مراکز انتخاباتی در ان منطقه از حق رای دهی محروم گردیده اند عبدالقدیر. یک تن از باشنده گان کمپ مذکور. گفت که در جریان انتخابات ریاست جمهوری. برای آنها حوزۀ رای دهی ایجاد و مردم از آرای خویش استفاده نموده بودند. ص۴





شهر کابل از تصاویر کاندیدان پاکسازی خواهد شد

شاروالی کابل . کار پاک سازی شهر از تصاویر کاندیدان که در محلات مختلف نصب گردیده. آغاز نمود

۲۰۰ زن و مرد کاندید براي احراز کرسي هاي ولسی جرګه و شورای های ولایتی در کابل با چاپ ونصب هزاران پوستر و عکسهاي شان چهره شهر را عوض کرده اند قرار اظهارات محمد آصف اکبری رئیس امور پشتونستان به پاک کاری تصاویر آغاز نمودند و بعدا این کار را به مناطق دیگر شهر وسعت خواهند داد اکبری به آژانس خبری پژواک گفته است « ۲۲ محل در شهر کابل برای کاندیدان مشخص شده بود . اما کاندیدان برعلاوه این محلات در مناطق دیگر به شکل غیر قانونی تصاویر شان را نصب نموده اند » ص۴

کلتوری شاروالی کابل. آنها دیروز صبح ازمنطقه چهارراهی

شکایت از پاک شدن رنگ



برخی رای دهنده ها در مراکز رای دهی ولایات کابل. فاریاب. بلخ و بدخشان از پاک شدن رنگ انگشتان شان اعتراض دارند و میگویند که حتی دوباره رای داده اند.

اما مسؤولین دفتر انتخابات می گویند که تنها در آغاز پروسه رای دهی درفاریاب مشکل جزئی در این رابطه ایجاد شد. ولی به زودی برطرف گردید ص۴

درایو دلیږد په موټر چاودنه

دننګرهار ولایت دخوګیانیو ولسوالۍ اړوند ګړیاوه کې تېره شپه درایو دصندوقونو په موټر چاودنه وشوه خو صندوقونو او موټروان ته یې کوم زیان نه دی اوښتي ۴مخ

بنیاد عادلانه انتخابات اظهارنگرانی کرد

بنیاد آزاد و عادلانه انتخابات افغانستان (FEFA) از عدم اشتراک بیشتر مردم در انتخابات پارلمانی و وقوع تخطی های که در جریان انتخابات صورت گرفته است اظهار نگرانی نمود . ص۴



شمیرنی مهر
پروسه شمارش آرام

گرانو هیوادوالو !

د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د رايې ورکولو له امله مو د زړه له کومې مبارکي ومنئ. په دغو ټاکنو کې ستاسو برخه اخيستنه د افغانستان د راتلونکي د ټاکلو لپاره يو ډېر ارزښتناک ګام ګڼل کيږي او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالا نشا له تولوهغو کسانو منه کوي چې د دغو ټاکنو په برېالېتوب کې يې خپل رول ولوباوه.

اوس مو چې د ولسي جرګې او ولايتي شورا ليږه د خپلې خوښې استازيو نه رايه ورکړه، نو د شمېرلو ډېر يې پېل شوی دی !

که څه هم د رايو شمېرل د ټاکنو نه ورځې وروسته پېل شوي دي خو سم او ګړه شمېرل به وخت اخلي او تاسو به په يو ډول اوونيو کې خبر ئئ چې چا ګټلې نه – نو مهربانۍ وکړئ له صبر نه کار واخلئ.

له رايې اچولو وروسته د رايو صندوقونه مهر و لاک او د شمېرلو ليږه د شمېرلو مرکزونو نه ليږدول شوي دي. په ډېرو سيمو کې د شمېرلو مرکز د همغه ولايت په مرکز کې موقعيت لري چېرته چې رايې اچول شوي دي.

په ياد مو وي چې مخکې مو رايه ورکړه د. له هغه وروسته چې د رايې اچولو له مرکزونو څخه رايې پاڼې تر لاسه کړای شوې نو د بېلابېلو ولسوالیو څخه د راغيږو رايې پاڼو ګڼډې په په ګډ ډول له يو ځای سره يو ځای کيږي. دغه ګډ ډول به له دې سره مرسته وکړي چې څوک د رايې اچولو له حايه خبر نه شي او د رايو راز پټ وساتل شي. د دې معنا دا نده چې نه پوازي د يوه سري رايه پته نده بلکې د ټولنيز رايه هم پته پاتې کيږي.

د دې ليږه چې د رايو د اعتبار وړ شمېرنه يقيني کړای شي نو رايې پاڼې به يوه يو نوه ځلي د نور بېلابېلو شمېرونکو له خوا شمېرل کيږي.

د شمېرلو د ډېر ډول پراوونه به د کانديدانو او کوونکو د ټاکل شويو استازيو او څارنيو او نړيوالو ټاکنکو له خوا څارل کيږي. د ټاکنکو شته والی يوه بله لاره ده چې د راتلونکي شمېرنه شفافه او له قانون سره سم تر سره شي.

د ټاکنو د تنظيم ګډ دفتر به له ولايتونو څخه د رايو د شمېرلو لومړنۍ پايلې خپروي. دغه نتيجې به وروستۍ نه ګڼل کيږي او بدلېدلای به شي. د ټاکنو د تنظيم ګډ دفتر به د ټولو رايې پاڼولـه شمېرلو وروسته چې څنګه ډاډ تر لاسه کړي ټولې پايلې بشپړې او سمې دي نو وروستۍ نتيجې په رسمي ډول تصديقوي.

په ياد مو وي چې مخکې مو په ولايت کې د ولسي جرګې د ګټونکو شمېر، مخکې د ولايت د اوسېدونکو شمېر په پام کې نيولو سره په خانګړيو کړای شويو خوکيو پورې اړه لري. دغه خوکۍ به د دوري د ۲۷ مې نېټې په ټاکنو کې هغو کانديدانو ته ورکول کيږي چې تر ټولو زېاتې رايې يې ګټلې وي. په هر ولايت کې د ولايتي شورا ليږه د ګټونکو شمېر د هغه ولايت ليږه د ولايتي شورا په خوکيو پورې اړه لري چې بيا هم د ولايت په نفوس پورې تړاو لري. د ولايتي شورا د غړيتوب ګټونکي به هم هغه خوک وي چې تر ټولو ډېرې رايې يې ګټلې وي. نتيجې به پوازې هغه وخت راوځي چې د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر بې پرېکړې وکړي، پدې نه تاسو دغو ټاکنو له ګټونکو خبر شئ.

هموطنان عزیز!

صمیمانه ترین تبریکات ما را بخاطر رأی دادن در انتخابات ولسی جرگه وشورا های ولایتی بپذیرید. اشتراک شما درین انتخابات گام مهم در تعین آینده افغانستان تلقی میگردد، دفتر مشترک تنظیم انتخابات از کسانیکه این انتخابات را کامیاب ساختند سپاس گذاری میکند.

بعد از اینکه شما برای نماینده خود در ولسی جرگه و شورای ولایتی رای دادید، شمارش آرا آغاز گردیده است.

پروسه شمارش آرا بعد از روز انتخابات آغاز گردید تا یک شمارش دقیق و بوقت صورت گیرد. شما در باره برنده گان در جریان دوهفته خواهید فهمید، بنآء با حوصله باشید.

بعد از جریان رأی دهی، صندوق های رأی مهر و به جای که شمارش صورت میگیرد، انتقال داده شد. در اکثرموارد، مرکز شمارش آرا در همان ولایتی که مردم رأی داده است، صورت میگیرد.

بیاد داشته باشید که رأی شما سری است. بعد از اینکه آرا از مراکز رای دهی جمع آوری گردید، بسته های رأی ریخته شده بصورت اتفاقی از ولسوالی های مختلف با هم مخلوط میگردند. مخلوط کردن آرا امر سری بودن آرا را اطمینانی تر میسازد. به این معنی که نه تنها سری بودن رأی شخص حفظ میگردد بلکه سری بودن رأی همه عوام حفظ خواهد گردید.

بخاطر مطمین ساختن یک شمارش با اعتبار، همه آرا بصورت انفرادی و دوبار بالای تر مامور شمرده خواهد شد.

تمام مرحله های شمارش توسط نمایندگان احزاب وکاندیدان که دارای اعتبار نامه باشند و هم مشاهدین ملی و بین ملی نظارت خواهد گردید. حضور مشاهدین راه دیگری است که اطمینان شود طرز العمل ها بصورت درست تطبیق و شمارش با شفافیت صورت میگیرد.

دفتر مشترک تنظیم انتخابات نتایج ابتدایی را پس از تکمیل شمارش رأی هر ولایت اعلان مینماید. ولی این نتایج نهایی نمیباشد، ممکن است تغیر کند. دفتر مشترک تنظیم انتخابات نتایج نهایی را رسما وقتی اعلان مینماید که شمارش تمام آرا بصورت درست و قناعت بخش آن تکمیل شده باشد.

بیاد داشته باشید که تعداد برنده گان اعضای ولسی جرگه ولایت تان نظر به کرسی های تعین شده و نفوس ولایت تان مشخص میگردد. این کرسی ها به کاندید های که بیشترین رأی درست را در ۲۷ سنبله اخذ کرده باشند، داده میشود. تعداد برنده گان شورای ولایتی نیز ربط به کرسی های تعین شده و نفوس ولایت دارد. کسانی که در شورای ولایتی برنده محسوب میشوند که بیشتر آرا را اخذ کرده باشند. به مجرد یکه نتایج توسط دفترمشترک تنظیم انتخابات تایید گردد، شما خواهید دانست که برنده گان این انتخابات کی ها اند.

ملی سرود خو هم یو داستان لري

عبدالباری جهانی

د کال ۲۰۰۲ د اپریل د میاشتې په شاوخوا کې مې د افغانستان د جمهور ریس جلالتمآب حامد کرزي په غوښتنه د ملي سرود متن ترتیب کړ، او له دې څخه مې د ملاقات غوښتنه وکړه جمهور ریس کرزي د خپلې همېشنۍ مهربانۍ سره سم په هغه ورځ د ملاقات وخت راکړ، او کله چې د هغوی دفتر ته ورغلم نو تصادفا درې تنه نور پښتانه عالي رتبه مامورین هم ناست وو. د ملي سرود متن مې چې ډېر اضافي بندونه مې د هغوی د نور انتخاب دپاره پکښې ځای‌کړي وو، ورته ولوست. البته جلالتمآب جمهور ریس هغه سمدستي رد کړ او ما ته یې وویل چې په دې سرود کې باید تغیرات راوستل شي. په دفتر کې ناستو پښتنو مامورینو هم د تایید په علامه سرونه وښورول او سرود ګواکي رد سو. د سرود ډېره لویه نیمګړتیا دا بلل کېدله چې د پښتنو نوم په سر کې راغلی او دا خبره دنورو قومونو حساسیت را پاروي.

دا وطن افغانستان دي
دا د ټولو خلکو ځان دي
دلته هر وګړي خپل دي
دلته هر سړي افغان دي
دا وطن د پښتنو دي
دا وطن دي د تاجکو
دلته کور دهزاره دي
دلته اور دي د اوزبکو
د وروری د سولې مینه
دا ټاټوبي د جرګو دي
دا کیږدی د وروڼو
خوینه دو
دا وطن د مرکو دي
څوچې نوم د دې نړۍ وي
دا به کور وي د افغان
تور او سور زرغون بیرغ
به
وي د هرمنبر نښان
پر غلیم چې مو لاس بر دي
زور د الله اکبر دي زور
دالله اکبر دي

څه باندې یو کال وروسته
زلمي هیواد مل، د
جلالتمآب جمهور ریس
صاحب سره امریکې ته
راغلي وو او ماته یې په
ټلفون کې وویلې چې د
ملي سرود په اړه ماته څه
ویل غواړي. کله چې زه په
واشنګټن کې دافغانستان
سفارت ته ورغلم نو هلته
هیوادمل راته وویل چې د

ملي سرود یوه لویه نیمګړتیا دا ده چې پښتون قوم لومړي ذکر شوي دي او بله نیمګړتیا یې دا ده چې د نورو قومونو یادونه نه ده سوې. نو لومړي خو باید د نورو قومونو یادونه وسي او بله دا چې پښتون په منځ کې یا په پاي کې چېرته واچول سي. ما بیا هم د ملي سرود هغه پخواني متن ورته فاکس کړ او ځینې بندونه مې ورسره زیات کړل، چې د زلمي هیوادمل قناعت یې طبعا نه سواي حاصلولای نو طبیعي خبره ده چې هغه سرود ونه منل سو او څه موده وروسته خبر سوم چې د پښتو ژبې د یوه خورې ژبې شاعر ډاکټر محمد اکبر اکبر شعر د ملي سرود دپاره غوره سوي دي. خداي ستة چې په دې خبرې بېحده خوښ سوم او فکرمې وکړ چې یو لوی بار مې له اوږو لیرې سو. دا خبره لا توده وه چې څه وخت وروسته مې واوربدل چې د ډاکټر اکبر شعر بیرته رد سوي او پر ځای باندې یې د حبیب الله رفیع نظم، چې لومړی برخه یې د پښتو د مشهور شاعر او لیکوال عبدالروف بېنوا او د قومونو او د الله اکبر برخه یې د حبیب الله رفیع ده، د ملې سرود دپاره غوره سوي دي.

زه نه پوهېږم چې حبیب الله رفیع به د یوه مشهور شاعر او لیکوال په حیث دې کار تهٔ څرنګه تن ورکړي وي. ځکه چې دا کار خو د ټولو ادبي موازینو په خلاف عمل دي، اوهېڅ ادبي او مطبوعاتي قانون اجازه نه ورکوي چې د یوه شاعر له شعر سره، چې هغه هم تقریبا دوه ویشت کاله مخکې وفات سوي وي، د بل شاعر شعر وټرل سي، اوداسي مواد پکښې اضافه سي چې ښایي هغه مرحوم به هېڅ موافقه نه ورسره درلوده. زما دپاره د خوشالۍ خبره بیا هم دا وه چې دملي سرود د جوړولو څخه ببغمه سوي وم. ځکه چې سو او دا د تعجب وړ خبره ده چې څرنګه د پښتو ژبې د یوه نظم د ارزیابۍ د کمېسیون مشري داسي یوه چاته سپارله کېږي چې هغه په پښتو ژبه نه پوهېږي. دا خبره باید په یاد ولرو چې د کمېسیون د رییس او غړو انتخاب ټوله په زلمي هیواد مل اړه درلوده. دې کمېسیون ته څه باندې سل نظمونه جلالتمآب جمهور ریس هم هغه منلي او ډېرو مجلو اوورځپاڼو یې متن خپور کړي و خو دروان کال د اپریل په میاشت کې یوه ورځ محترم جمهور ریس حامد کرزي کورته ټلفون راته وکړ او راځخه یې وغوښتل چې د ملي سرود متن ورته ترتیب کړم. ما د ملي سرود یومتن د دوي د ټلفون په ورځ ترتیب کړ، په هغه ماښام مي د هغوي د فتر ته ورفاکس کړ، او دوي هم څلور پنځه ورځې وروسته افغانستان ته وبللم. زه هم افغانستان ته ورغلم او د ملي سرود په باب د خبرو دپاره څلور ځله ارګ ته د ماښامنۍ دپاره وبللم. دا هم هغه متن چې ما د دوي دغوښتنې سره سم ترتیب کړ.

دا وطن افغانستان دي
دا عزت د هر افغان دي
کورد سولې کور د تورې
هر بچې یې قهرمان دي
دا وطن د ټولو کور دي
د بلوڅو داوزبکو
د پښتون د هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
د وروری پرمېنه ګرځي
پشه یان نورستانیان
چې سمسور کړي خپله
مېنه
ملهٔ یې وروڼه پامیریان
دا هیواد به تل ځلېږي
لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به
لکه زړه وي جاودان
را ژوندي به کړو له سره
تاریخي افغانستان
راغي کور په کور اختر
غږ د الله اکبر غږ د الله
اکبر
دا شعر د ملي سرود د
ارزیابۍ هغه کمېسیون ته
. چې رییس یې اعظم
رهنور زریاب دي. وسپارل
چې د اساسي قانون د
تصویب په خلاف د
قومونو ذکر پکښې نسته
په هر صورت دا سرود په
هغه شپه رد سو او
پخواني سرود، چې د
قومونو لیست یې په ځان
کې درلود، مطرح سو
د ملي سرود د متن د
ارزیابي کمېسیون زما پر
لیکلي شعر باندې عجیب
او غریب انتقادونه
درلودل. مثلا ویل یې چې
سرود په
دا وطن افغانستان دي
پیل کېږي. خو که چېرې دا
سرود په کوم بل هیواد کې
ویل کېږي نو هلته خو بیا
معني نه ورکوي. مثلا موږ
به په اسلام اباد یا
واشنګټن کې ځرنګه وایو
چې دا وطن افغانستان
دي اوس نو د کمېسیون
محترم غړي په دې نه
پوهېږي چې په خارج کې
معمولا یوازې د سرود
موسیقي ږغول کېږي، او
که چېرې شعر هم ورسره
وږغول سي هیڅوک دا
فکر ونه کړي چې افغانانو
په اسلام اباد یا واشنګټن
دعوه کړې ده. یو انتقاد
یې دا و چې د وطن پر ځای
باندې که چېرې د فارسي
د سرزمین معادله کلمه
راسي بهتره به وي. خداي
سته په دې پېښنهاد یا
انتقاد نو زما هم چنداني
سر خلاص نه سو. یو بل
انتقاد یې دا دوو چې په
دې شعر کې راغلي دي چې
دا هیواد به تل ځلېږي لکه
لمر پر شنه اسمان. او کله
چې سړي دا شعر اوري نو
فکر کوي چې افغانستان
په اسمان کې دي. زه هیڅ
فکر نه کوم چې د زلمي
هیوادمل د غوره کړې
کمېسیون له غړو څخه
پرته دي بل هیڅوک دا
ماته داسي څرګنده سوه
چې که زه د سرود په متن
کې هر څونه تغیرات راولم
ستاسي له انتقادونو څخه
نه خلاصېږم. زه دادي متن
تاسي ته درسپارم او تاسي
ته اختیار درکوم چې د
خپلې خوښې سره سم
بشپړه لاس وهنه پکښې
وکړي. زه له دې افتخار
څخه چې د ملي سرود پاره
به زما شعر غوره کېږي تېر
یم او دا افتخار تاسي
محترمو پوهانو، فاضلانو
او لیکوالانو ته درسپارم.

ستاسي وطندار جهاني
په دې لیک، د زلمي
هیواد مل ډېر چرت خراب
سو، خو زه صرف دوې درې
ورځې وروسته له
افغانستان څخه امریکې
ته ولاړم او سرود مې
پرېښود. څه کم یوه
میاشت وروسته د جولای
پر دوهمه نېټه محترم
جمهور ریس صاحب ماته
زما دمېرمنې د فاتحې
راکولو په ترڅ کې په
ټلفون کې وویل چې د ملي
سرود پاره یې زما شعر
غوره کړي دي، او اوس به
نو د موسیقي اوکمپوز غم
خوړل کېږي. خو له دې
څخه زیات وکم پنځه لس
ورځې وروسته د جمهور ر
ریاست نوي نطاق کریم
رحیمي په ټلفون کې راته
وویل چې باید په شعر کې
پنځه نور قومونه زیات
کړم او د پاي هغه بیت چې
وایي را ژوندي به کړو له
سره تاریخي افغانستان
ورځخه وغورځوم. او په
نتیجه کې له سرودځخه
داسي شي جوړ سو چې
پرته د قومونو له لیست
څخه د بل شي نوم باندې
ایښودل کېدلای نه سي
دا وطن افغانستان دي
دا عزت د هر افغان دي
کور دسولې کور دتورې
هر بچې یې قهرمان دي
دا وطن د ټولو کور دي
د بلوڅو د اوزبکو
د پښتون دهزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهویي دي، قزلباش دي
هم ایماق هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلېږي
لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به
لکه زړه وي جاودان
را ژوندي به کړو له سره
تاریخي افغانستان
راغي کور په کور اختر
غږ د الله اکبر غږ د الله
اکبر
البته زلمي هیواد مل په
دې هم بسیا نه سو او د
خپلې ورسپارل سوي
وظیفې، یې دا ملي سرود
عامي نظر غوښتني ته
واچاوه. څو لږ ترلږه د دې
سرود لیکونکي ته د یو
څو لیکوالانو په خوله پوچ
او فحش ووایي. ځکه
خلک نه دي خبرچې دا
سرود اصلا په څه شکل وو
او بیا د د کمېسیون په
فرمایش څه تغیرات
پکښې راغلي دي.

زه باید دا خبره وکړم چې
ما دملي سرود متن یوازې
او یوازې د جمهور ریس
حامد کرزي په غوښتنه
کړي دي. او دا کار مې له
هغوي سره د اوږدو
دوستانه اړیکو په اساس
کړي دي. هغوي زما بې
اندازې زیات قدر کړي او
زه دهغوي د قدردانۍ
پوروړي یم. البته زه په دې
توګه له مسولیته نه
خلاصېږم او په کار خو دا
وه چې کله زما لیکلي متن
ونه منل سونو باید چې ما
هم فرمایش نه واي منلي.
او اوس مې له حکومت
څخه دا صمیمانه غوښتنه
ده چې دا سرود کمپوز نه
کړي او له بل چا څخه د
سرود جوړولو غوښتنه
وکړي. د ملي سرود د متن
په برخه کې باید ټول
وطنوال په یوه اواز د
اساسي قانون د تسوید پر
کمېسیون باندې اعتراض
وکړي چې ولې یې په
سرود کې د قومونو ذکرول
حتمي کړي دي، ځکه چې
دا کار ملي یوالي نه بلکه
ملي انشعاب او بې اتفاقي
تشویقوي. د بلي خوا د الله
اکبرد مقدسي کلمې څخه
باید سیاسي استفاده ونه
سي ځکه چې الله اکبر د
آذان پر منبر ویل کېږي او
له ساز اوموسیقي سره یې
ویل ناروا دي.
له محترم جمهور ریس
حامد کرزي څخه د یوه
وطندار، دوست او ورور
په حیث غوښتنه کوم چې
نور دي نو د دغه راز
مشاورینو څخه، چې ده ته
پرته له بدنامۍ او تنفر
څخه نور هیڅ نه ور په
برخه کوي، ځان خلاص
کړي اوکنه نو

شعر دغه راز تعبیر کړای سي

کله چې زلمي هیوادمل د دوهم ځل لپاره د کمېسیون بې معني انتقادونه را وسپارل نو مې په جواب کې ورته ولیکل چې د ملي سرود د متن د ارزیابۍ د کمېسیون محترمو پوهانو، عالمانو، لیکوالانو او شاعرانو تېنګوو ملي وحدت ځو پر لار د عدالت نوم دحق مو دي رهبر وایو الله اکبر وایو الله اکبر محترم کرزي صاحب ویل واه واه دا بهترین سرود دي. خو هیواد مل، چې په دغه راز وختونو کې همېشه ویښ وي، سمدستي ویل یې دا سرود به کمېسیون ځکه ونه مني

پنجاه در صد ثبت نام ...

اما گفته می شود که به دلیل ثبت نام چندباره برخی از افراد، رقم واقعی ثبت نام شوندگان کمتر از این بوده است.

برآورد فیصدی رای دهندگان، بر اساس ارزیابی اندازه مشارکت در حدود یک سوم از حوزه های اخذ رای به دست آمده است.

با خاتمه رای گیری در روز یکشنبه، کار حمل هزاران صندوق رای به مراکز شمارش آرا با استفاده از انواع وسایل ترانسپورتی به اجرا گذاشته شده و انتظار می رود شمارش آرا از امروز، ۲۰ سپتامبر، آغاز شود.

انتظار می رود شمارش بخش عمده آرا تا اوایل ماه اکتوبر صورت گیرد و نتایج نهایی رای گیری تا اواخر ماه آینده رسما اعلام خواهد شد.

برگزاری نخستین انتخابات ریاست جمهوری و انتخابات اخیر پارلمان و شوراهای ولایتی بخشی از روند استقرار دموکراسی در افغانستان محسوب می شود. با سرنگونی رژیم طالبان به دست نیروهای ائتلاف به رهبری آمریکا در سال ۲۰۰۱، برنامه هایی برای انتقال قدرت به نهادهای انتخابی افغانستان به اجرا گذاشته شد.

این برنامه بر مشارکت تمامی مردم افغانستان به خصوص زنان در امور سیاسی تاکید نهاده و از جمله در انتخابات پارلمانی، ۲۸ کرسی برای زنان و ده کرسی برای کوچی ها در نظر گرفته شده است.

گفته می شود که حدود ۴۲ درصد از کسانی که برای رای دادن ثبت نام کردند زنان بودند که رژیم طالبان آنان را از بیشتر حقوق اجتماعی خود محروم کرده بود و در مجموع، حدود ۵۸۰ تن از نامزدهای عضویت در پارلمان و شوراهای ولایتی را نیز زنان تشکیل می دادند.

در نتیجه، انتخابات افغانستان گامی مهم برای ارتقای سطح مشارکت اجتماعی و سیاسی زنان کشور ارزیابی شده هرچند در جریان مبارزات انتخاباتی، نامزدهای زن به خصوص با تهدیدهای جدی هواداران طالبان مواجه بودند.

پایین بودن میزان استقبال رای دهندگان از انتخابات اخیر سوالاتی را در مورد علل بی تفاوتی آنان مطرح کرده است.

خبرنگار بی بی سی در کابل از قول مقامات انتخاباتی نقل کرده است که با توجه به برگزاری دو انتخابات در خلال یک سال، احتمالا خستگی رای دهندگان یکی از این علل بوده است.

در عین حال، بی اعتمادی نسبت به فرآیندهای سیاسی را نیز نمی توان نادیده گرفت در حالیکه بسیاری از رای دهندگان مایل نبودند در انتخاباتی شرکت کنند که، به نظر آنان، اشخاصی که مسئول خشونت در کشور بودند به عنوان نامزد در آن حضور داشتند.

همچنین، کثرت تعداد نامزدهای انتخاباتی نیز ممکن است باعث سردرگمی رای دهندگان و تصمیم آنان به خودداری از حضور در پای صندوق شده باشد.

شکایت از پاک شدن...

نثار احمد یکی از باشنده کان ناحیه هشتم شهر کابل که مسؤولیت بخش امنیتی محل رای دهی مسجد محمدی را برعهده دارد، در حالی که انگشت خود را نشان می داد گفت: «من اولین کسی بودم که بوتل رنگ را باز کردم و دستم را در رنگ زدم. بعد از پانزده دقیقه رنگ دستم را پاک کردم واثری از آن باقی نماند.»

اما داکتر مهدی مسؤول ناظم ساحوی ناحیه هشتم، ده واقعه پاک شدن رنگ در این مرکز را تائید نموده و اظهار داشت که آنها این مشکل تخنیکی را به مجرد آگاه شدن حل نموده اند.

مطیع الله یکی دیگر از کارمندان این محل رای دهی می گوید که در رنگ مواد کیمیاوی موجود است و باید بوتل سرچپه، شور داده شود تا مواد رنگ کاملاً مخلوط گردد که رنگ دست بعضی رای دهندگان به علت شور ندادن بوتل پاک گردیده است.

اما پیتر هربن آمر عملیاتی دفتر مشترک تنظیم انتخابات در کابل رفتن رنگ در کدام مرکز کابل را رد کرد و افزود که هیچ مشکلی در مورد رنگ وجود ندارد وی افزود که یک کاندید انتخاباتی، شایعه ایرا در مورد رفتن رنگ در مرکز رای دهی کابل پخش نموده بود که بعداً معذرت خواست.

۶۰۰۰ فامیل از حق رای...

محمد غنی، یک تن از کاندیدان شورای ولایتی گفت که از منطقهٔ متذکره الی مراکز و حوزه های دیگر دو ساعت پیاده روی است که مردم نمی توانند در این هوای گرم به آنجا بروند.

گل محمد، یک تن از باشنده گان منطقه، گفت که تعداد زیاد باشنده گان منطقه، در شاهراه جلال آباد تورخم، جمع شده و منتظر آن بودند که اگر موتر یوناما بیاید آنها شکایات خویش را ابراز کنند وی افزود که چند موتر یوناما گذشت اما توقف نه نمود. عبدالستار حیات، یک تن از کاندیدان ولسی جرگه، گفت که منطقهٔ مذکور قصدا ازاین امتیاز محروم گذاشته شده است، وی گفت که محروم نمودن بیشتر از ده هزار تن از حق رای دهی، مشروعیت انتخابات را زیر سوال می اورد.

نیل کاتینا Nil Kanta، مسؤول دفتر مشترک انتخابات در ولایات شرقی، طی یک مصاحبهٔ با آژانس خبری پژواک ایجاد نه شدن حوزهٔ رای دهی در این منطقه را اشتباه خود خواند.

وی افزود که آنها به اساس پلان قبلی، حوزه ها را ایجاد نموده اند و امکان آن میرود که دفتر انتخابات، سهواً منطقهٔ مذکور را فراموش نموده باشد.

صدها مرد و زن...

عبدالولی، باشنده ناحیه چهارم تالقان، به آژانس خبری پژواک گفته است «پولیس مرا به این بهانه که بی نظمی میکنم و نوبت را مراعات نمی کنم، لت کرد و آبرویم ریخت.»

شکریه، که او نیز میخواسته در این مرکز رای دهد، اظهار داشت: «نظم نیست، پولیس در بین صف زنان داخل میشود و ما را تهدید میکنند که این خود، آبرو ریزی زنان میباشد.»

اما شاه محمود، مسؤول این مرکز لت و کوب رای دهنده گان توسط پولیس را رد کرده و افزود که به خاطر ازدحام زیاد، مشکلاتی به وجود آمده است.

در یک رویداد دیگر درولایت کاپیسا، سید محسن طرفدار حمید الله حاتم، کاندید ولسی جرگه که تصویر این کاندید را در دیوار مرکز رای دهی مکتب متوسطه ایزد یار شهید در ولسوالی حصه دوم کوهستان، نصب مینمود، قبل از آنکه توسط پولیس دستگیر شود، فرار کرد.

محمد عارف، افسر قوماندانی امنیه کاپیسا، افزود که، فرد مذکور یک قطعه عکس حاتم را، در دیوار مرکز رای دهی نصب نموده بود و میخواست سایر عکس ها را نیز نصب کند که پولیس در صدد دستگیری او شد، اما او از دیوار خود را پایین انداخته و فرار نمود. همچنان در ولایت تخار، تصاویر و شعارهای کاندید ها در دیوارهای نزدیک مراکز رای دهی به نظر میخورد که دفتر انتخابات و رای دهنده گان آنرا تخطی از انتخابات خوانده اند. این تصاویر در مسیر مراکز رای دهی پوهنتون و ریاست امور زنان تخار در شهر تالقان، وجود داشت که تا ساعت ۹ صبح دور ساخته نه شده بودند.

خورشید ناصری، رییس مرکز رای دهی پوهنتون تخار، گفت: «ما می بینیم که عکسها و نوشته های کاندید ها در دیوار ها به چشم میخورند در حالیکه نباید در روز انتخابات چنین می بود که این خود یک تخطی است.»

در نزدیکی مرکز رای دهی ریاست امور زنان تخار، نیز وضع به همین گونه بود.

رزم آراء حواش، رییس امور زنان تخار، گفت که موجودیت تصاویر و شعار ها تخطی بوده و تا حال از نزدیکی این مرکز پاک نه شده است.

مسؤولین انتخابات، موجودیت این تصاویر و شعار ها را نیز تخطی خوانده و میگویند که باید این تصاویر و نوشته ها در یکصد متری مراکز رای دهی وجود نداشته باشند.

بنیاد عادلانه انتخابات...

احمد نادر نادری رئیس دفتر FEFA، طی یک کنفرانس خبری گفت: «آنچه که ما از اشتراک مردم در پروسه رای دهی توقع داشتیم صورت نگرفت و برای ما یک موضوع نگران کننده است.» موصوف از جزئیات بیشتر خوداری نموده اما یکی از دلایل آن را تعدد کاندیدها و تهدید مردم از طرف آنها خواند.

وی خاطر نشان ساخت که در بعضی از مراکز رای دهی در ولایات کشور تا حوالی ساعت ۲ بعد از ظهر، مردم در پروسه رای دهی اشتراک نکرده بودند.

نادری در مورد راپور یک سلسله تخطی های که از طرف، ناظرین بنیاد FEFA از مرکز و ولایات کشور برای آنها رسیده است گفت: «در بعضی ولایات کشور مسؤ ولین دفتر انتخابات مردم را به رای دادن به افرادی که آنها می خواستند تشویق می نمودند.»

وی همچنان خاطر نشان ساخت که در بعضی از ولایات کشور مردها به جای خانم شان رای دادند که از طرف مسؤولین دفتر انتخابات ممانعت صورت نگرفته است.

په انتخاباتي حوزو کې د کمزورۍ ...

داده چې ولی زمونږ خلکو په پوره مینه په انتخاباتو کې ګډون ونه کړ او کارتونه ورسره پاتې شول. اکثره خلك پدې اند دی چې انتخاباتو اړوند با صلاحیته کمیسیون یو ټاکل نورم چې په لوړو زده کړو، تجربې، سیاسی او ملی درك او پوهې باندې متکی وی را منځته نه کړ. آن چې دکاندیدانو په جملـه کې بې سواده کاندیدانو هم وکړای شول چې د خپل قومی، پوځی او مالی نفوذ او قوت په اساس خان کاندید کړي.

دویم دا چې دانتخاباتو کمیسیون دخلکو دعرایضو تکـه بتونو په اساس تورن کاندیدان دخپل تور دپاکولو لپاره لـه لسـت څخه ونه غورځول بلکې کمیسیون دهغوی دپوخی نفوذ څخه ووېرید. اودریم دا چې ولسمشر کرزی هم په خپله ټاکل شوی دوره کې ونه کړای شول هغه ژمنې چې دملت په وړاندې یې کړې وې په عمل کې پلي نه کړي.

دنومورې دژمنو نه عملي کولو هم ددې زمینه برابره کړه چې اولس د کاندیدانو په غوږو ژمنو باندې بې باوره او بی اعتماده شوې او انتخاباتی مینه یې کمه شوه پورتنیو لاملونو ددې زمینه برابره کړې چې له امنیت سره سره هیوادوال انتخاباتی حوزو ته ورنه شي او خان سره ووایی چې څه کیږي هغه به کیږي چاته رایو ورکړو په هیڅا مو زړه اوبه نه څښي داسې کسان په کې دی چې راز راز تورونه ورباندې دی.

دخلکو دګونبـه کیدو سره سره انتخابات تر سره شول او هغه ټاکلي شمیر چې قانون تثبیت کړی هغه به پوره شي.

په اچول شوو رایو کې به وړونکی معلوم او اعلان شي پارلمان به جوړ شي اوس دکامیاب کیدونکو وکیلانو دهیواد پالنې دنده ده چې په هیواد کې دموجودو مسئولو دلیرې کولو اوقانونیت په رامنځته کیدو کې دهیواد پالنې په روحیه سره کارنده او ګټور ګامونـه پورتـه کړی او د اولس هغـه ناخوښي او بی باورې چې دخپلو مسوولینو او یا دپارلمان په برخه کې ورسره ملـه شوې ده او له دې امله بې په انتخاباتو کې له ګډون څخه سر غړونه وکړه له منځه یوسي دخپلو عملا متبتو اجراتو په واسطه باید ددې خوریدلی اولس هیلې سرته ورسوي او خپل بریالیتوب په عمل کې ثابت او خلکو ته څرګند کړی چې دهیوادوالـو خوښي په خوښي بدله شي.

د رایو شمیرل به نن...

« د رایـو څـه بانـدې ۱۲۰۰۰۰ صندوقونه دي او په لرې پرتو او غرنیـزو سیمو کـې د یـو شمېر صـندوقونو د شمېرلو مرکـز تـه لېږدول کیدای شي زیات وخت ونیسـي » اړیـن زیاتـه کړه چې رایې به ۳۲ مرکزونو کې د بهرنیـو او کورنیـو څـارونکو په وړاندې شمېرل کیږي.

د هغـه د معلومـاتو لـه مخې، په هغـو وسـیلو کـې چې د رایـو صندوقونه به پکې د رایو شمېرلو مرکز تـه لېږدول کیږي، د یـو تـن ازاد او یـا د یـو کاندید څارونکي ته هم د تلو اجازه ورکول کیږي.

نومـوړي وویل چې تر اوسـه نـه ده معلومـه چې څومره خلکو رایـه ورکړې ده، خـو زیاتـه یې کړه: « کوښښ به وکړو چې د سبا ورځې پـه لومړیـو ساعتونو کې د رایې اچوونکو تقریبي شمېره په ډاګه کـړو » د اړیـن پـه وینـا، دوی کوښښ کوي چې د رایو شمېرل په ۱۲ ورځو کې سرته ورسوي، هغـه دا هـم وویـل چې، د بشپړو پایلو وروستی نپټه د تلې ۳۰ مه ده.

نومـوړي د ټاکنو امنیـت تـه پـه اشارې سره زیاته کړه، چې په ټول هېواد کې ۱۹ وړې امنیتي پېښې رامنـځ تـه شـوې، لـه دغـو پېښـو څخه یوه یې د کونړ په پېچ دره کې وه چې درې تنـه رایې ورکوونکي پـه کـې ټپـي شـوي و. د هغـه د معلومـاتو لـه مخـې، د رایـې ورکولو له ۲۲۰۰ مرکزونو څخه د لوګر، بغلان، هلمند، اروزګان، دایکندي او کندهار ۱۲ مرکزونـه د امنیتي او لوژیستیکي ستونزو له املـه نه وو پرانستل شوي.

د ټاکنو د سمون د ګډ دفتر مشر بسم الله بسـمل د دغـې خبـرې غونډې پـه مهـال د ټاکنو پروسـه بریالی وبلله، نومـوړي زیاته کړه « د ټاکنو پر مهال د ټولو امنیتي اندېښنو پـه لرلـو سره- سره ننـې ټاکنې بریالی وې. »

هغـه داهـم وویـل، د جمهـوري ریاست پـه ټاکنو کـې پـې ونشو کـولای، چـې دهېـواد پـه ټولـو ولسـوالیو کـې د رایـې ورکولـو مرکزونه خلاص کړي، خو اوس په دغه کار وتوانېدل.

ده پـه ځینـو ځـایونو کـې د رایـو ورکولـو پـر مهـال، بـې نظمـۍ ومنلې او دعوه یې وکړه چې هغه یـې پـه وخـت حـل کـړي دي.

د رایو د لیږد په ...

دسیمې یو تن اوسیدونکي چې دنوم له ښودلو ځخه یې ډډه کوله، پژواک خبري آژانس ته ویلي چې درایو صندوقونه دلېږد په حال وو، چې دموټر مخې ته چاودنه وشوه.

دده په وینا، چې دموټر ښېښې ماتې شوې او کېدای شي چې درایو صندوقونو ته هم زیان رسیدلی وي.

دننګرهار ولایت امنیه قوماندان خلیل الله ضیایي دپېښې تایید پر مهال وویل چې دچاودنې له املـه دموټر ښېښې ماتې شوې، خو صندوقونو ته هېڅ زیان نه دی رسیدلی.

په ځټېځو ولایتونو کې د ټولټاکنو دګډ دفتر دبهرنیو اړیکو مسوول میا ملنګ قادري وویل چې چاودنه درایو دموټر ځخه وړاندې شوې، موټر او صندوقونو ته کوم زیان نه دی رسیدلی.

شهر کابل از تصاویر...

قرار معلومات اکبری، ۱۵۰ هزار افغانی در کار پاککاری شهر ازاین همه تصویر و پوستر به مصرف خواهد رسید و یک ماه وقت کاری بیست تن از کارمندان شاروالی را خواهد گرفت.

وی همچنان گفت که اگر کاندیدان بخواهند تصاویر شان دوباره برای شان سپرده میشود. تصاویر کاندیدان برعلاوه محلات عام بر منازل دولتی، پایه های برق و حتی بر لوحه های ترافیکی، دولتی و شخصی نصب شده است. برعلاوه کابل، شاروالی کندهار نیز کار مشابهی را آغاز نموده است. زمری عثمان، شاروال کندهار گفته است که آنها مجبور اند تا تصاویر کاندیدان را پاک نمایند.

ERADA Daily

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار

ارادہ
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه وحدت
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

قیمت یک شماره ۳ افغانی